که چیرته کوم څوک تاسو ته زیان رسوي، نو دا **هېڅکله** ستاسو ګناه نه ده.
تل داسي یو څوک شته چي له تاسو سره مرسته وکړي.
**یو چا ته چي دلته کار کوي یا د خپل د باور وړ مشر کس ته ووایاست.**

**HSE د ماشومانو د خوندیتوب او هوسایني پالیسي لري.**

دا هغو خلکو ته چي په HSEکي کار کوي، وایي چي څه وکړي که چیرته اندېښمن وي چي تاسو خوندي نه یاست...

...یا که چیرته تاسو او ستاسو کورنی مرستي ته اړتیا لري.

هغه خلک چي په HSE کي کار کوي باید د ماشومانو په خوندي ساتلو کي مرسته وکړي.

هغه خلک چي په HSEکي کار کوي، ښایي ستاسو له کورنی سره په دي اړه خبري وکړي چي هغوی د څه په اړه اندېښمن دي، البته که چیرته د دي کار ترسره کول خوندي وي.

که چیرته هغه خلک چي دلته کار کوي اندېښمن وي چي ښایي کوم څوک تاسو ته زیان رسوي یا تاسو خوندي نه یاست، نو دوی به له هغو خلکو څخه وغواړي چي له تاسو او ستاسو له کورنی سره مرسته وکړي چي په Tusla کي کار کوي.

هغه خلک چي په TUSLA – **د ماشومانو او کورنی اېجنسی کي** کار کوي، له ماشومانو، ځوانانو او کورنیو سره مرسته کوي.

دا د هغوی دنده ده چي ماشومان خوندي وساتي.

**هغه خلک چي په Tusla کي کار کوي، څه ډول به مرسته وکړي؟**

کوم څوک چي په Tuslaکي کار کوي، له تاسو سره به خبرې وکړي تر څو ډاډ ترلاسه کړي چي تاسو ښه یاست.

هغوی به همدارنګه ستاسو په ژوند کي له ښکېلو خلکو سره مرسته وکړي تر څو وګوري چي له تاسو او ستاسو له کورنی سره څنګه په ښه توګه مرسته وکړي.

QR CODE SCANNING

Children First
National Office